**الله سبحانه و تعالی اسلام د حاکمیت لپاره را لېږلی، نه د محکومیت لپاره**




**خبر:**

اسرايیل او سعودي عربستان په سیمه‌ییز سیاست کې یو بل ته نږدې ملګري نه وو، خو په دې وروستیو کې پرمختګونو ریاض او تل ابیب اړ کړل، چې یو بل ته نږدې او په منځني ختیځ کې د ملګرتیا یو حیرانوونکی باب پرانیزي.

سیاسي شنونکي وایي: د اسراییل او سعودي عربستان اړیکې، دوی ته د ایران د ګواښ پر وړاندې د نوي سیمه‌ییز ایتلاف یوه برخه ده.

یوه اسراییلي وزیر د سعودي عربستان د هغه مفتي له څرګندونو څخه هر کلی وکړ، چې د فلسطینیانو د مقاومت ډله «حماس» یې تروریستي سازمان وباله. د اسراییلو د اطلاعاتو وزیر ایوب کارا په خپل رسمي ټوېټر پاڼه کې لیکلي: « موږ د سعودي عربستان لوی مفتي او د علماوو مشر شیخ عبدالعزیز ته د هغې فتوا له امله مبارکې وایو، چې د یهودو پر وړاندې جګړه یې حرامه او د دوی وژنه یې ناروا ګڼلې». دغه راز یې زیاته کړه: « زه نوموړي ته بلنه ورکوم، چې له اسراییلو څخه لیدنه وکړي او له ده به خورا تود هر کلی وکړو».

**تبصره:**

دغه ډول څرګندونې نوي نه دي. په تېره پیړۍ کې هم د یادو مفسدو حکامو اصلي څېرې او د دوی غلطې تګلارې خلکو ته بربنډې شوي.

د اسلام د سپېڅلو ځایونو حکام د الله سبحانه و تعالی د حکمونو پر ځای د واشنګټن غوښتنې پوره کوي او سیکولریزم دودوي. یا د دوی په وینا د هغه ګډ دښمن (ایران) پر وړاندې له یهودي دولت سره، چې فلسطین یې اشغال کړی دی، مالي او پوځي مرستې کوي. یا هم د امریکا له امر سره سم د یمن پر مسلمانانو خونړي پوځي بریدونه کوي او یمني مسلمانان له تېغه تېروي.

یا هم اردوغان د دولتي بودیجې پر مټ د مصطفی کمال مجسمې ته څېرمه د غونډو په ترسره کولو سره د هغه یاد تازه کوي. هغه مصطفی کمال، چې اسلامي خلافت یې د برتانیې په اشاره ړنګ کړ. یا هم د روسیې له قاتل ولسمشر ولادیمیر پوتین سره د ملګرتیا او نږدې همکارۍ ګډه اعلامیه صادروي، چې په سوریه کې په دوامداره توګه مسلمانان بمباروي. له هغه یهودي دولت سره ټینګې اړیکې ساتي، چې د مسلمانانو دریم مقدس ځای یې ښکېلاک کړی او له تېرو ۷۰ کلونو راهیسې  فلسطینیان وژني.

همدا راز دغه دوه دولتونه، له امریکایي پلان سره سم د هغو مسلمانانو پر وړاندې جګړه پر مخ وړي، چې د سوري رژیم مخالفت کوي. دوی هڅه کوي چې مخالفین د یوه سیکولر دولت جوړولو ته قانع کړي او د اسلامي دولت، چې ګټې یې اسلام او مسلمانانو ته رسېږي، پر ځای داسې دولت ته وهڅوي؛ چې امریکایي ګټې خوندي کوي.

امت هره ورځ له ورته چلونو او پېښو سره مخ دی، خو تر اوسه د پام وړ بدلون نه دی راغلی او موږ لا تر اوسه هم په هغه مخکیني حالت کې یو، ان زموږ حالت تر مخکې هم بد شوی دی. خو نور څومره خلک له منځه لاړ شي، ترڅو د دغو بې باوریو لمن ټوله او پوه شي، چې دوی غولول کېږي او اصلي لوری یې بدلېږي؟

پوښتنه دا ده چې د دا ډول پېښو اغېز به پر مسلمانانو څه وي؟

له شکه پرته د غولوونکو مشرانو دغه پلانونه او پروګرامونه، چې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې یې پر مخ وړي، ناورینونه او کړکېچونه زېږوي. دغه کرغېړنې کړنې به مسلمانان وهڅوي، چې د روان بد حالت په اړه فکر وکړي او حل لاره یې ومومي. د دې تر څنګ باید وپوهېږو، چې یوازې د واقعیتونو لیدل او منل د بدلون لامل نه کېږي او نه هم د واقعیت پر وړاندې احساساتي غبرګون د بدلون لامل ګرځي.ان که په سل ګونه زره غمیزې پېښې وشي او ټول خلک له منځه لاړ شي، خو د ډاډ وړ بدلون به رامنځته نه شي. که اسلامي امت دغه بد حالت ته د ایډیولوژیک لیدلوري پر بنسټ و نه ګوري، نو په دغه وېرجن حالت کې به د مشرانو اصلي څېرې او د دوی غلطې تګلارې څرګندې نه شي او بدلون ته به اړتیا و نه لیدل شي.

اسلامي امت باید په ټولنېزو، اقتصادي او سیاسي واقعیتونو ځان پوه کړي، و یې ارزوي، په خپل ژوند کې یې له اسلامي عقیدې سره تړاو ورکړي او د هغې پر بنسټ پرېکړه وکړي. که نه نو د ستونزو لپاره به حل لاره ونه مومي او نه به له دغه ناورېه او کرغېړن حالت څخه د وتلو توان پیدا کړي.

د بېلګې په توګه د ملګرتیا، ګډون او دښمنۍ مفکورې د دولتونو له لوري د دې لپاره کارول کېږي، چې له نورو دولتونو سره خپلې اړیکې تنظیم کړي. دوی دغه اصطلاحات له خپلو غوښتنو سره سم کاروي، ترڅو د خلکو پوهاوی زیات شي او خلک له یادو مفکورو څخه ملاتړ وکړي.

په اسلام کې دغه اصطلاحات ناڅرګند نه دي او مانا، مفهموم او شرایط یې څرګند دي. پر دې بنسټ کفري هیوادونه، چې د اسلام دښمنان دي په ځانګړې توګه امریکا، روسیه او یهودي دولت باید د دوستو هیوادونو په توګه و نه پېژندل شي، ځکه دوی پر اسلامي هیوادونو بریدونه کوي او اشغالوي یې. دغو هیوادونو ته باید د دښمنو دولتونو په سترګه وکتل شي. له دوی سره باید پخلاینه او ګډون ونه شي؛ نو د یادو اصطلاحاتو په اړه د اسلام حکم همداسې دی او مسلمانانو ته د ورته حالاتو په اړه یوازینۍ سرچینه همدغه ده.

کله چې په اسلامي نړۍ کې یو مسلمان حاکم یاد دولتونه خپل ملګري دولتونه بولي، دی په حقیقت کې  له اسلام پرته بله سرچینه غوره کوي. دغه حاکم خلک غولوي او خلک هم له ده سره هوکړه کوي، بیا نو د دغو خلکو استدلال دا وي، چې دا یوازې سیاست، ګټه او یا هم له واقعیتونو سره ځان برابرول دي او دا په دې مانا ده، چې خلک هم له اسلام پرته له بلې سرچینې څخه ګټه اخلي. تر هغې چې مسلمانان دغه سرچینه بدله نه کړي او پر ځای یې اسلامي سرچینه ونه ټاکي، په همدې ډول به د دوی غولول دوام ولري.

نو دغو هیوادونو ته باید د دښمنو هیوادونو په سترګه وکتل شي، ځکه د دوی موخې د اسلامي هیوادونو بېلول، کمزوري کول او ترې ناوړه ګټه اخیستل دي. له دوی سره کار کول نه یوازې له شرعي پلوه حرام دي بلکې مسلمانان د ګمراهۍ لورې ته بیایې او له دوی سره دوستي د عنکبوت جال، چې ډېر ژر له منځه ځي، په څېر ده.

د دوستۍ، ګډون او دښمنۍ مفکورې له زرګونو مفکورو څخه یوازې یو څو بېلګې دي. یادې ټولې مفکورې باید له یوې واحدې سرچینې څخه واخیستل شي، چې هغه اسلامي عقیده ده. ټولو واقعیتونو او حالتونو ته باید له اسلامي عقیدې سره تړاو ورکړل شي، ترڅو مسلمانان هغه حالتونه په ښه توګه وپېژني او له اسلامي عقیدې سره یې؛ سم حالت غوره کړي.

که خپلې ټولې چارې د اسلامي سرچینو پر بنسټ تنظیم کړو، نو ډېر ژر به پیاوړي، ځواکمن او مفکر شو او د فاسدو او غلطو مفکورو له امله به نه بې لارې کېږو. په بدل کې به یې یو ایډیولوژیک بدیل او حل لاره ولرو او له دې لارې به وکولی شو حاکم نظریات، مفکورې، باورونه او نظامونه وننګوو.

په پای کې باید ووایو، چې اسلام د دې لپاره راغلی، چې د نړۍ حالت بدل کړي او پرې واکمن شي. نه د دې لپاره چې هغه بدل شي او محکوم شي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: اوکې پالا**

**د هالنډ مطبوعاتي دفتر استازی**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الاول ۷مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۲۵مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**